# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

احمدشاه وردک

۲۶ فبروری ۲۰۱۳

## افغانستان دغنمو دانه ده اوکه د تلی شاهین؟

## ۱

که چیری دهیواد ځوزره کلن تاریخ ته اوپه ځانګړی توګه دوروستیو دریو پیړیو تاریخ ته ځیر شو! نو ددی پوښتنی سره مخ کیږو چی ولی دغه ټاټوبی په خپل ټول تاریخ کی تل د نیواکګرو اویرغلګرو دپاملرنی وړ ګرځیدلی؟ او هرکله چی دنړی په تاریخ کی دهر زورور اوظالم په سرکی دکبر اوزیاتی خیال راغلی نوپه دی ملت یی بریدکړی.؟ په ځانګړی توګه کله چی په ۱۸ پیړی کی د سمندری غلو ډلګی( دانګریزانو لومړنی بحری ځواکونه دنورو اروپایانو لخوا په همدی نامه نومل شوی و ځکه دوی به دهسپانویانو، پرتګالیانو او فرانسویانو په بیړیو بریدونه کول او هغوی به یی لوټول) په کلکته کی ځای په ځای شوی نو په سیمه کی نوی سیالی او شیطانتونه پیل شول. انګریزانو هند خپل کړ، دچین او لری ختیځ نورو هیوادونو ته یی مخه کړه اولودیځ خواته یی سترګی په ایران اوزمونږ په ګران هیواد وموښلولی. له بلی خوا دتزاری روسیی لخوا دمنځنی آسیا هیوادونه یو پر بل پسی لاندی کړای شول او دآمو سیند څندو ته راورسیدل. له ختیځی خوا انګیرازانو ددریو تیریو،وژلو اولوټ تالان څخه ددیورند د تړون په پایله کی د هیواد داوسنی جغرافیی حدود وټاکل چی تر نن پوری افغانانو دهمدی پولو دننه یودبل سره دوروښو په شان ژوند تیر کړی.

دنولسمی پیړی په وروستیو لسیزوکی دامیر شیرعلی خان(۱۸۶۳-۱۸۶۶ دور دوم ۱۸۶۸-۱۸۷۹) او هندی برتانویانو ترمنځ اړیکی ترینګلی شوی، انګریزانو دفارورډ (دمخ پر وړاندی) پالیسی له مخی خپلو موخو ته درسیدولپاره ستونزی او موانع له منځه وړلی. افغان ولس بیاهم لکه دتل په شان ددوی دستراتیژیکی موخو په مخکی یو خنډ وګرځید. په همدی وخت کی دهند وایسرای امیر شیرعلی خان ته یو له ګواښه ډک لیک استوی اوپکی لیکی: **که چیری امیر دانګریزانو شرطونو ته غاړه کیښی نړدی نو افغانستان به دغنمو ددانی په څیر دژرندی ددو ډبرو تر منځ اوره شی! امیر په ځواب کی ورته لیکلی و چی افغانستان دغنمو دانه نده بلکه دتلی شاهین دی اوکه چیری یوه لوری ته نږدی شی نو بله خوابه ډیر څه له لاسه ورکړی اوزوراوځواک به یی اوبه شی!.**

دهیواد دریو لسیزو پیښو سیمه کی دتاریخ طبعی لیږد اوددی هیواد جیوستراتیژیک ارزښت یوځل بیا په زیاد ورساوه. کله چی خلق-پرچم ډلو په هیواد کی دغوایی غوبل جوړ کړ اودهیواد سیاسی –پوځی اونړیوالی چاری روسانو ته نږدی شوی نودنوری نړی اوپه ځانګړی توګه لویدځی او اسلامی نړی عکس العمل مو ولید چی په ټول استخباراتی او پوځی ځواک سره یی ددی بدلون او اوښتون دمخنیوی لپاره متی را ونغښتلی او په هیواد کی جګړه ونښته چی تراوسه یی

دپای څه څرک نه ترسترګو کیږی. داځکه چی د**تلی شاهین** یوی خواته کوږشو اوبلی خوا دانشوای زغملای. نن هم همداسی ده ! که چیری لویدیځه نړی او په سرکی دامریکی امپریالیزم په دی هیله وی چی داخاوره به خپله کړی نو تیروتنه کوی ! نه به افغانان داوزغمی اونه به پاته نوره نړی او سیمه ایزځواکونه دا ومنی؟ همدا وجه ده چی نن سبا دپاکستان او شمال تړلوالی ترمنځ اړیکی تودی شوی اوپخوانی یارانی تازه کوی. داد شمال تړلوالی اتلوالی او درایت ندی، دا ددی سپیڅلی خاوری قدسیت دی . دا دهغو وینو بیه ده چی زرګونه کلونه یی دخه خاوره خړوبه کړی.

په ټوله نړی کی داسی سیمی شته چی جیو ستراتیژیک ارزښت یی ډیردی او تل دنیکواکګرو د پام وړ ګرځیدلی و. دمثال په توګه دبالکان هیوادونه په اروپاکی، کوریا په لیری ختیځ مصر،بیت المقدس او شام په منځنی ختیځ او افغانستان په سویلی آسیا کی دسیاسی-پوځی او اقتصادی انډول یوه سیمه ده او هغه خبره یوځل بیا ثابتیږی چی**((هرکله افغانستان خپله بی طرفی له لاسه ورکړی نو خپلواکی یی هم له لاسه وتلی!)).**

کله چی دهیواد په اوسنی تاریخ کی داوود خان خلق-پرچم ګوند دځینو پوځیانو په مرسته سپینه کودتا په ۱۳۵۲ کال، وکړه نو په طبیعی توګه داوود خان دروسانو او ددوی دګومارل شویو لخوا کلابند شو اودشوری سره په ټولو برخوکی اړیکی ځوچنده شوی، په زرهاو پوځیان دزده کړو لپاره شوروی ته ولیږدول شول اوپه اقتصادیـ ټولنیزو اوپوځی برخوکی هیواد په شورویانو تکیه وکړه. داود خان دخپلی واکمنی په وروستیو کی څڅه وکړه ترڅو خان له روسانو راټول اولویدځ ته نږدی شی! همدی خبری دده او دده دکورنی دغړو ژوند واخیست او دهیواد ستره غمیزه پیل شوه.

دداوود خان ددغه چپی سیاست اوبیا دهغی اوښتل افغانانو په یوه لطیفه کی ډیره ښه تمثیل کړی:

وایی : داوود خان، کارتر او بریژنیف په یوه موټر کی سپاره و. کله چی لومړی څلورلاری راورسید نو موټروان له کارترڅخه وپوښتل چی کومی خواته وګرځو! کارتر ورته وویل چی مونږ( ښی پلوه) خلک یو او ښی خواته وګرځه! دوهم څلورلاری چی راغی موټر وان بیا له بریژنیف څخه وپوښتل چی ښاغلیه کوم لورته وګرځو؟ بریزنیف وویل چی مونږ(چپیان) یو اوکینی خواته وګرځه! اوچی دریم څلورلاری راغی نو له داوود خان څخه یی وپوښتل چی کوم لور ته ورګرځو! داوود خان ورته وویل:

(( اشاره چپی خواته ولګوه او موټر ښی خواته وګرځوه))!

هوکی همدا چپی ته اشاره لګول اوښی ته ګرځیدل و چی د داوود خان سریی هم وخوړ او هیواد یی له دی غمیزه سره مخ کړ، پنځه کاله نه و پوره چی روسان خپله دلته راغلل او بیا نو هیوادوال خبردی چی څه وشول.

نوله هماغی ورځی چی دتلی شاهین یوی خواته متمایل شو او دسیمی توازن له منځه لاړ او دعلامه اقبال په خبره **فساد آسیا** پیل شو. دتلی دغه شاهین په نږدی ۳۵کلونوکی څو څو ځله یوی خوا اوبلی خواته واووښت. دوارسا پوځونه ستړی شول، دعربو یرغلونه تیرشول ، دټول لودیځ ځواکونه دیانکیستان په مشری دلته راغلل! ولی هیڅ توپیر رانغی. اوافغانستان همداسی په هماغه څلورلاری کی پاته دی.

په دی اړدوړ کی چا ښی مزی چرچی وکړی ، ښه چاغ شول اوکورنی اوبهرنی بانکونه یی له پانګو ډک کړل اونوری اونوری. ځمکی یی چور کړی او لوړی لوړی مانۍ یی جوړی کړی او دهیروینو او مخدره توکو لابراتوارونه یی په خپلو سیمو کی جوړ کړ او هیواد یی په ټوله نړی کی دفساد له مخی لومړی درجی ته ورساوه، ولی په اصطلاح روښان آندی(روشنفکران) له ستونزو او بحرانونو او سره مخ شول خپله پیژندنه یی له لاسه ورکړه او په پټو سترګو په تیاروکی روان دی. اکادمیسنان او پروفیسران ورغلل اودیوه ځناور اوبیسواده په وړاندی په ملا مات شول اودتعلیم او روڼ آندی لپاره توږداغ شول. دغه خوارځواک چی په فطری توګه هم ثابت درېځ نشی درلودلای ځکه دوی ثابتی ګټی نلری ، تر ټولو طبقو او قشرونو ډیر وځپل شو په خاصه توګه هغه روڼ آندی چی دوطن ملی ګټو ته ژمن و له سیاسی ـ ټولنیزو او پوځی چارو څنګ ته ټیل وهل شول او شتون یی په ورځنی ژوند کی دنشت سره مساوی شو . ددی قشر یوه

کمه سلنه په ملی روحیاتو سمبال ده او ترپایه دهیواد ملی ګټوته ژمن پاته کیږی او بی باکانه ځانونه ترپلرنی وطن ځاروی او دهیواد تاریخ په خپلو وینو لیکی.

ددیرش کلنو ورانیو لوی ګزارمعارف اوپه ټولیزه دزده کړوخاوندانو ولید. داسی ورځی او شپ هم راغلی چی ډېګروالانو اوتعلیم یافته ګانو په سنګرونو او مرکزونو کی لوښی مینځل. اوکه به دځدرانو په لاره اودمجاهدینو په نورو لارو کی چاته معلم صاحب اویا ضابط صاحب وویل نو دده ژوند به له لوی ګواښ سره مخ شو.

که پیښو ته ښه په ژوره سره ځیرشو نو ددی غمیزی اصلی لوبغاړی هم همداغه روڼ آندی(روشنفکران) وکه اسلامی و یا چپی.؟ کله ناکله چی دځینو مزدورو، متعصبو اویا کمزورو خلکو لیکونه ته وګورو نو وبه وایو چی زمونږ خلک دی خیر یوسی چی دمکتب نوم لاتراوسه ژوندی پریږدی! څه نه وچی مکتب والاو په دوی ونکړل، خلکیان اوپرچمیان دوی شول، اخوانیان اووهابیان دوی شول او اوس خو تعریف نلری؟ نیم یی دبالت او تانګو کورسونه وایی، نیم یی په غرونو اودښتو کی ترجمانان دی او میندی خوارانی یی په تلویزونونو کی وایی: (( بچه ام کتی امریکائی ها مجاهد است)). په ګوډاګی پارلمان کی به ناست وی او د رسنیو دټوکری دسر ګل به هم دی وی(سعادتی، کوهستانی، منصور، دشتی ....) ولی په لویه خوله به وائی: منافع ملی درافغانستان تا هنوز تعریف نشده؟ اویا: افغانستان کدام تاریخ ندارد وهمیشه زیر سلطه کسی بوده؟ اونور اونور......نوځکه کله ناکله دیوه نیم سره په ناندریو شم او ورته سر سرتوروم اولمن نیسم چی ستاسو هرغلط توری چی له خولی مو وځی اویایی لیکی نو، زمونږ دبچیانو دزده کړو په بیه تمامیږی، تاسی په لوی لاس تورو لښکرو ته توره په لاس ورکوی.

له اصل ټکی له لیری لاړ نشو ، کله چی دهیواد بی طرفی له منځ تللی دجګړو ، تیریو، وژلو اوسوځلو لړی روانه ده اوپه همدی ۳۵ کلونو کی زمونږ خپلواکی-ملی واکمنی او ځمکنی بشپړتیا دیرغلګرو ترپښو لاندی ده .

که په کابل کی اداره پاکستان ته نږدی شی نو هندوستان ناکراره شی اوپه ټول ځواک یی مقابله کوی، کله چی عربستان ته نږدی شی نو بیا ایران ناری سوری کوی ، کله چی روسیی ته نږدی شی نو بیا امریکا اوغربی نړی خوابدوی.هیڅ خوا په هیڅ بیه نه غواړی په افغانستان کی له خپلو ګټو تیرشی.

**نوڅه باید وشی؟**

نوربیا........